# واصل روښاني په شاعرۍ کښې د معنا او صورت تصور

# The Concept of Meaning and Form in the Poetry of Wasil Roshani

Dr.Asal Marjan (Muhib Wazir)*

**Abstract:**

Meaning and form are actually a form of thought and matter, essence and existence or soul and body. It has an important topic of philosophy since the beginning, from which the question is raised whether meaning comes first of form?

Apart from regular philosophy, this topic has also been important in the theory of unit of being of mysticism. Wasil Roshani has also related to the Pir Roshani School of mystic. He has said a lot about the relationship between meaning and form (appearance) in his poetry.

In this article, the study of Wasil Roshani`s poetry has been presented in the context of essence and existential philosophy.

**KeyWords:** Philosophy,Meaning,Appearance,Essence,Existence,Soul,Mysticism, Relationship, Poetry.

د معنا او صورت د یو بل سره خپلوي او تړون هم خالص یو فلسفیانه رسایي (Approach) دے چې ښکاره کول یا ثابتول یې هم د هر فلسفیانه عمل په رنګ ګران او مشکل دي. ځکه چې دا د روایتي فلسفې په رڼا کښې د افلاطون (۳۴۸/۴۲۴ ق م) نه را نیولې تر اوسنو فلاسفرانو په وړاندې ، وړومبۍ او بنستیزه پوښتنه هم دا ږدي چې د موجوده صورت/وجود معنا/جوهر څه ده/دے؟ یا څه کېدے شي؟ او دا پوښتنه هم ورسره مخې ته راغلې ده چې معنا/جوهر/خیال ته اولیت ترلاسه دے که صورت/وجود/ماده مقدم ده؟ په نورو ټکیو کښې دا د خیال او مادې /روح او جسم معامله ده چې د فلسفې اهمه موضوع پاتې شوې ده. دا هغه پوښتنې دي چې په جدیده فلسفه کښې یې باقاعده دوه ډلې مخې ته راغلې دي او بشپ جارج برکلے (۱۶۸۵/۱۷۵۲) او ایمانویل کانټ (۱۷۲۴/۱۸۰۴) ، (مذهبي فلسفیان) ته یې مارټن هائیډګر (۱۸۸۹/۱۹۷۶) او ژان پال سارتر (۱۹۰۵/۱۹۸۰) په شان عصري وجودي فلسفیان مخامخ ودرول. وړومبني دوه معنا/جوهر/خیال ته د تقدیم ورکولو په حق کښې دي ولې وروستني دوه په دې دعوا ټینګ ولاړ دي چې صورت/وجود/ماده ته اولیت ترلاسه دے. (1)

* Assistant Professor, Pakhtunkhwa Study Centre, Bacha Khan University Charsada

د معنا او صورت په مینځ کښې چې کوم فرق واضح کړے شوے دے ، د هغې لنډیز مونږ څه داسې وړاندې کولے شو چې افلاطون د عالمګیریت Universality (معنا/جوهر) او تفصیلات Particulars (صورت/وجود) ، ارسطو (۳۲۲/۳۸۴ ق م) د امکانیت Potentiality (معنا/جوهر) او حقیقت Actuality (صورت/وجود) او کانټ د اسمیت (The Noumena thing-in-itself) (معنا/جوهر) او مظهر Phenomena (صورت/وجود) په رنګ اصطلاحات (تصورات) راوړي چې د خپل فهم په رڼا کښې د معنا او صورت توضیحات کوي او د یو بل فرق ښکاره کوي (2) .

صورت او معنا دوه داسې نومونه یا icons دي چې یو په بل کښې د پېژندګلو یا شناخت په تکل کښې دي. یو کوټلے شکل ، صورت یا وجود لري ولې دا بل مونږ د نوعیت په رڼا کښې پېژنو لکه په سور رنګ (صورت/وجود/شکل) کښې سوروالے (معنا/جوهر) ، انسان (صورت/وجود/شکل) کښې انسانیت (معنا/جوهر) شوه او اتحاد (صورت/وجود/شکل) کښې وحدت (معنا/جوهر) (3).

د صورت یا وجود قیصه دومره اسانه هم نه ده، مونږ چې کله د ساختیاتو مطالعه کوو، نو د درېو ساختونو خبره کېږي، یو ارکیټېکچرل ساخت، بل نامیاتي ساخت او درېم ریاضیاتي ساخت (4) چې لیدلے کېږي نه. نو د ریاضیاتي ساخت صورت یا وجود خو نشته ، ولې معنا یا جوهر یې مونږ احساسوو او تصوراتي تشکیل یې هم کوو. د آن لاین انټرنېټي یا سافټ وېئر پروګرامز صورت یا وجود چې مونږ ته ښکاري نهٔ ، ولې فنکشنز یا معنا/جوهر او خاصیتونه راکوي. دا صورت یا وجود هم هغه وجود دے چې مذهبي فلسفیانو د خدائے سره تړلے دے.

څو پورې چې د معنا تصور دے نو دا هم که یو خوا د صورت د پټ خاصیت یا زمونږ په ذهن کښې د صورت/وجود سره تړلي تصورات راولاړوي او هغو تصوراتو ته اذهان خپل خپل تجسیمي صورتونه هم بخښي. هر کله چې د معنا د تعبیر عمل شروع کېږي نو دا تش په صورت/وجود/متن کښې د شعوري معنا نه ډېر لرې ذهن کښې نور ډېر شکلونه/صورتونه راولاړوي. دلته معنا د معنویت په مقام اودرېږي. یوه معنا ده چې مونږ یې د صورت/متن نه نېغ په نېغه اخلو او یو معنویت دے چې مونږ یې د نورو اړونده شیانو/شکلونو/صورتونو په دایره کښې اخذ کوو یا تصور کوو او هغو ته یو تجسیمي حېثیت ورکوو(5) ، لکه دېو چا هم لیدلے نه دے چې مونږ نېغ په نېغه معنا ترې د ویرې/ډار/خوف اخلو او د نورو یرونکیو او

خوفناکو شکلونو/صورتونو/وجودونو په تعلق سره زمونږ ذهن ته د دېو یو خپل شکل/صورت/وجود هم راځي۔

جوهر د څۀ "څۀ دي" د پاره کارول کېږي۔ مونږ چې کله یو موجود څیز (وجود) ته اشاره کوو او د هغۀ په حقله دا تپوس کوو چې "دا څۀ دي؟" نو مقصد مو دا وي چې د دې څیز (وجود) معنا/خاصیت څه ده/دے؟ دغه معنا او خاصیت په اصل کښې جوهر دے چې انګرېزۍ کښې ورته essence ټکے کارول کېږي۔ معنا یا جوهر د یو څیز (وجود) په اړه زمونږ تصورات جوړوي چې مونږ یې د هغه څیز (وجود) د پاره مخصوص کوو او په کار یې راولو۔ ساختیاتي مفکر فرناندي سوسیر (۱۸۵۷ ـ ۱۹۱۳) چې د ژبې په ترڅ کښې دا خبره کوي چې شیانو ته نومونه مونږ د خپلې خوښې ورکړي دي ، نه چې د خاصیت یا معنې په تعلق ورته دا نومونه کښېښودې شوي دي (6) نو داسې برېښي لکه هغوي چې هم دغه تصور د معنا/جوهر او صورت/وجود د دغې بحث نه اخستے وي۔

معنا/جوهر بنیاد دے چې د صورت/وجود بېلابېل خاصیتونه رازېږوي او مونږ سره یې معارفي کوي۔ په بل انداز کښې مونږ داسې هم وئیلے شو چې معنا/جوهر د صورت/وجود یو تجریدي تجسیم دے چې زمونږ په تصوراتو یا ذهنونو کښې خوندي دے۔

سارتر په بنیادي توګه دا وئیل غواړي چې وجود هم هر څۀ دے او چې څومره وجودات/وجودونه موجود دي ، د دې غونډو وجودونو مجموعه هستي ده او د دې په شا د هستۍ کوم بل تصور نشته. یعني دلته هغه په معنا کښې وجود نۀ لټوي ، بلکې په وجود کښې د معنا په لټون زور ورکوي۔ د هغوي په خیال چې کله په وجود/صورت کښې د لټون عمل شروع شي نو د وجود اهمیت سېوا شي او دارنګې د وجود/صورت باندې غور کول اړین وګرځي او چې کله په موجودو شیانو/صورتونو/وجودونو غور شروع شي نو د بدلون اثار مخې ته راځي او یوه نوې نړۍ امکان ولري. (7) د کوم چې مونږ وړاندې د ارسطو د امکانیت په ترڅ کښې هم ذکر کړے دے۔ دلته به د عقل او وجدان خبره هم وکړو چې د صورت او معنا یا ماده او خیال یا وجود او جوهر سره یې یو ضمني تعلق جوړېږي۔ د عقل او وجدان قیصه هم دغه ده چې ادراکات مونږ ته د عقل (چې د حواسو په بنیاد ترلاسه کېږي) نه کېږي بلکې د وجدان له لارې راته کېږي۔ اعني عقل چې کله ماده په کار راولي نو ادراک یې هم ورته وشي او وجدان د مادې جوهر ته ځان ورسوي (8)۔

واصل روښاني (۹۹۰ھ/۱۵۸۲ـ ۱۰۶۹ھ/۱۶۵۸) (9) د بايزيد انصاري (پير روښان) د علمي تحريک يو منلے غړے او د لوړې پايې دے ـ د دوي په شاعرۍ کښې د تصوف د وحدت الوجود د څانګې نه رابرڅېره شوي داسې ناوياته کېفيتونه شتون لري چې لوستونکے د حېرت او استعجاب په يو وير جهان ور ګډ کړي او دغه حېرت او استعجاب دے چې د تصوف حاصلات ګڼل شي (10)ـ

د معنا (جوهر) تقديم:

د معـنـا د عـــالم بخـره ازادي ده
د يقين په مشعل بيا موند شوې سحره (د واصل روښاني
ديوان: ۵۶)

د يقين په مشعل د سحر موندل د معنا سره تړي ، هر کله چې د صورت (شپې) په معنا (تيارۀ) يقين ولرلے شي نو بيا د تصوراتو يوه نړۍ مخې ته راځي ، د اضدادو مجموعه هم مخې ته راشي او د اضدادو په دغه مجموعه کښې د شپې سره د سحر او تيارۀ سره د رڼا تصور هم تړلے دے ـ هر کله چې دا تصور ذهن ادراک کړي نو بيا په ذهن کښې دا يقين محکم شي چې سحر به راځي او ازادي به ترلاسه کېږي او منزل به موندل کېږي ـ دا د اضدادو تصور مونږ ته د ژبې د ساختياتي مطالعې په ترڅ کښې سوسيئر هم را پېژني چې د ژبې کار شيانو ته د نومونو ورکول نه دي بلکې شيانو ته د يو بل نه د فرق په اساس پېژندګلو ورکول دي (11) او دغه پېژندګلو نه پس انسان د هغه څيز د حصول يا د هغه څيز نه د ځان ساتنې تدبير کوي ـ

د معـنـا سجـل بـه مـومـي
کـه ازاد کـړي زړۀ اسيره (د واصل روښاني
ديوان: ۶۱)

دلته هم واصل د معنا معنويت ته اشاره کوي چې که د صورت د تنګې کوڅې نه بهر راووځي نو د معنو سليقه ، ښايست ، عمدګي ، پاکي ، شفافيت او طاقت به ترلاسه کړي ـ دا هر څۀ د صورت/وجود په معنا/جوهر پورې اړونده بولي ـ هر کله چې متن د معنې نه د معنويت په لور مخه کړي نو تعبير يې پراخ شي (12) ـ دلته واصل نېغ په نېغه معنا نه هم د معنا د معنويت (سجل) په لور خپل متن مرجعي کړے دے ـ

دا صورت لکه کوټه عقل چراغ دے
د دۀ ترابښه باندې سوځي غوړ پرکه (د واصل روښاني
دیوان: ۷۶)

که څه هم د عقل اهمیت بیانوي ، ولې بل خوا د صورت/وجود حېثیت هم ښیي چې محض یې د کوټې یعني د چوکاټ هومره اهمیت دے چې دننه پکښې هر څۀ اچوې ، اچول کېږي . په کوټه کښې چې کومه رڼا ده او د دې رڼا په برکت چې مونږ څه وینو ، اخذ کوو ، څه اخلو ، څه پرېږدو ، اعني دې صورت (کوټه) کښې چې د کوم څۀ کولو صلاحیت دے ، دا په اصل کښې د کوټې خپل صلاحیت نۀ دے ، بلکې دا دې کوټه کښې بل شوے څراغ ، (عقل اعني معنا/جوهر) دے (13).

واصل کله کله د معنا/جوهر باندې ایمان دومره ټینګ او قوي شي چې په دغه لړ کښې د اسباب (صورت/وجود) نه یو مخې انکاري شي ، د غزل په لاندینۍ مطلع کښې یې لوستے شئ:

کـه دانا یې د معنا د دکان پښه
دا د دم بنۍ دې تشه کړه له مښه (د واصل روښاني دیوان: ۷۲)

"مښ" چې معنا یې ډاکټر پرویز مهجور د "مخ ، اور" په ټکو کړې ده (15 , 14) ، شعر کښې په معنا یعني جوهر باندې زور اچوي چې دغه اور (صورت یا وجود) کښې چې د اوسپنې د نرمولو کوم خاصیت دے ، د دې تعلق د اور (وجود) سره نۀ دے ، بلکې که پښ د معنا یا جوهر په حقیقت پوهه شو نو د اور بنۍ به وغورزوي .

وچ لـرګي ګلـونه نۀ کا
تاندې ونـې نـوبهار شي (د واصل روښاني
دیوان: ۱۰۴)

دلته تاندیتوب د لرګي صلاحیتونه ښئیي چې علم ، هنر او فضیلت طرف ته یې اشاره ده او دغه ټول شیان د معنا/جوهر بېلا بېل نومونه یا رنګونه دي ، ګني صورت خو "وچ لرګے" هم دے ، مګر هغه ګلونه نۀ نیسي . د معنا د پاره یې دغه شعر په استدلالي ډول وئیلے دے چې

تر ډېره حده د واصل د تصور په واضحولو کښې یو ښه استناد ثابت کېږي. په دغه استدلالي ډول یې لاندیني شعرونو کښې هم د صورت/وجود د نفي کولو په لاره اشاره کړې ده:

محبت به یې په کومه حلقه نیسي
یو ازاد مرغه دے بند زندان یې نشته (د داصل روښاني
دیوان:۴۹)

اې واصله! د اوبو تنده یوه ده
او قسمت د چا ګنګا چا زم زم شي (د داصل روښاني
دیوان:۱۱۱)

د دغو شعرونو مفاهیم که هر څو د روح ازادي ده یا عرفان لارې ښودل دي ، خو په تلازماتي ډول یې د صورت/وجود نفي کړې ده ، اعني روح (معنا/جوهر) یو داسې مرغه دے چې د بندولو د پاره یې د کوم صورت (زندان) هېڅ قېد نشته ، دغه رنګ د ګنګا او زم زم ذکر راوړل هم په دغه معنا دي چې بنیادي جوهر خو تنده (عرفان) ده. ګنګا ، زم زم یا تردې چې اوبه دا خو صورتونه دي چې د عارف په نظر کښې یې کوم اهمیت نشته. د صورت نفي چې کله کوي نو په استدلال کښې ورته داسې خیال راوړي:

خدا ے له هره عېبه پاک دے
صورت څه دے؟ زوه وینه (د واصل روښاني
دیوان:۹۶)

معنا/جوهر باندې زیات زور راړونکي فلسفیان (د مقالې په سر کښې مو د افلاطون خبره کړې ده) زیاتره صوفیان یا د عرفان مبلغین پاتې شوي دي ، نو د دوي زور هم په دغه اړخ باندې زیات ځکه وي چې دا ثابته کړي چې دا معنا/جوهر د یو مابعد الطبیعیاتي هستۍ څخه ودیعت شوے دے:

زۀ مدام د خپل اشنا په مینه مل یم
لکه یوه شمع د بلې شمعې بل یم (د واصل روښاني
دیوان:۹۱)

دا د مستۍ ، رندۍ ، مجذوبیت او عرفان حاصل هم د خپل محبوب څخه عبارت ګڼي. دغه شعر کښې یو جوهر د حقیقي وجود صفت ګڼي چې انساني صورت/وجود ته هم ترې رڼا ترلاسه شوې ده.

واصل روښاني په خیال هر هغه څوک چې د خپلو پټو صلاحیتونو نه واقف دي ، د خپلو پټو صلاحیتونو یا غوښتنو یا ادراکاتو نه کار اخلي یا اخستل غواړي نو د سختیو او کړمو سره مخ کېدل یې یقیني ځکه دي چې د معنا/جوهر اعني صلاحیتونو او استعدادونو نه په ورکړه څوک خبر دي او نه یې په عظمت خلق پوهه دي او هغه خلق چې د صلاحیتونو مخه نیسي او انساني ازادي تروړي ګویا دا ټول محض په صورت ښایسته دي:

چې رسېږي د معنا په رهګزر
دا رسمي ژوندون تمام د ځان خطر

په جهان کښې د صورت ښایسته ډېر دي
د معنا ښایست موندۀ نۀ شي بې زر(د واصل روښاني دیوان:۵۶)

واصل سره د معنا تصور هر اړخیز دے ، ظاهري ټول نعمتونه هم د معنوي خوږ والي نه ځاروي. په نورو معنو کښې دا ظاهري نعمتونه د هغو پوهانو او عارفانو په نظر کښې هېڅ دي چې د معنې/جوهر په لذتونو اموخته شوي دي:

د معنا له حلاوته بې نصیب شوې
د ظاهر نعمت دې خپل دے پکښې څره (د واصل روښاني دیوان:۵۷)

واصل روښاني یو څو مکالماتي نظمونه وئیلي دي چې یو پکښې "د مرد او عورتې مکالمه" په نوم پکښې هم دے. دغه نظم کښې سړے (مرد) ښځه (عورته) ته یو ځاے وایي:

مرد وې زۀ د عشق جوهر یم تر جوهر پاکیزه تر یم
صفت واړه په جوهر شي ، تۀ عاري یې له صفته (د واصل روښاني دیوان:۱۳۵)

پرته له دې چې دغه نظم کښې د مردانه او زنانه کوم رنګه نور تصورات واصل رابرڅېره کړي دي چې ځان له د بشپړه لوستې تقاضا کوي او زمونږ ورسره اتفاق اړین هم نه دے ، دم ګړۍ په دغه بحث کښې نه پرېوځو، خو دغه شعر کښې یې د جوهر (معنا) په اړه خپل خیال ډېر

ښکاره جاره وړاندې کړې دے چې ټول صفات هم په معنا (جوهر) پورې تړلي دي ، نه چې صورت (وجود) پورې۔

د صورت (وجود) تقديم:

واصل روښاني که هر ځو د معنا/ جوهر په تقديم باندې لکه د نورو صوفياء په رنګ يقين لري ، ولې د صورت/وجود له اهميته هم يو مخ انکاري نۀ دے ، ځکه چې دا خو صورت دے چې معنا پکښې ځايېږي ، که چرته هډو صورت/وجود نه يو څوک انکاري شي نو د معنا لټون به څوک چرته او کوم ځاے کوي ؟ يوه رباعي کښې وايي:

اودۀ مـه اوســه ادمـه
چـې بېرون نۀ شـې له جمه
د صورت وعده په ځاے دے
په معنا شي زيات و کمه (د واصل روښاني

ديوان:۱۴۷)

د صورت اهميت په معنا پورې اړه لري ، د کوم صورت چې معنا/جوهر/صلاحيت څومره معتبره وي هم هغه رنګه د صورت يا وجود اهميت هم مسلم وي۔

دغه رنګه يو بل شعر کښې حرف اعني لفظ او معنا يو بل د پاره ببخي لازم او ملزوم نۀ ګڼي ، ساختياتي نقادانو چې ډېر وروستو دا تصور وړاندې کړے دے خو واصل ډېر په ښکاره د معنا يا جوهر په ترڅ کښې دا دليل پېش کوي:

د معنا دليل له حرفه څرګندېږي
اوازونه واړه چرې مقامات دے (د واصل روښاني

ديوان:۱۲۵)

حرف (صورت يا وجود) خو د اواز نمايندہ دے او دا اوازونه خو د مقاماتو نمايندګي نۀ کوي ، بلکې مقامات خو د معنياتو تصور دے چې انساني ذهن پورې لکه د لانګ (Langue) پېوست شوے دے (16)۔

خو کله چې واصل د صورت او معنا امتزاج ته ګوري نو وايي:

په هر صوت مې د صفت په نامه بولي

او د ذات تعریف مې نۀ شي بې بدل یم (د واصل روښاني
دیوان:۹۲)

دلته انساني صفات ښئیل غواړي چې د خودۍ ، اصلیت ، روح په تناظر کښې پېژندګلو کېږي او د ذات تعریف نۀ کېدل که یو خوا د ذات مقدس ته اشاره ده چې د روح/جوهر/معنا سره اړونده اصطلاح ده نو بل خوا ذات د انساني صفاتو یوه داسې مجموعه هم ده چې عقل او خیال او ګمان هم ورته نۀ رسي:

ادراک کو ہے ذات مقدس میں دخل کیا
ادھر نہیں گزار گمان وخیال کا (17)

یو بل ځاے کښې هم خپل دغه تصور وړاندې کوي چې ګني معنا او صورت یو بل ته څومره اړتیا مند دي او یو بل نه څومره په استفاده دي:

هر صورت معنا د خپل مثل ګواهي لي
اصلي غوړ ، پوزه هغه دي ، نۀ څۀ نورې (د واصل روښاني
دیوان: ۱۲۰)

صورت او معنا د یو بل د پاره مثالونه ګڼي ، یعني کوم شیان (وجودونه) چې مونږ د تفکر په سترګو وینو ، په معنوي لحاظ یې هم هغه اهمیت دے یا په نورو ټکیو کښې دا صورتونه د خپلو معناوو نقلونه یا تمثیلونه دي چې مونږ یې د تخیل په سترګو وینو ـ یو بل شعر کښې خو داسې بریښي لکه وجود یا صورت ته چې په جوهر اولیت بخښي:

چې په زمکه کښې حکمت وۀ
رنګ په رنګ ځنې عیان شۀ (د واصل روښاني
دیوان: ۷۰)

اصل شے زمکه (صورت/وجود) دے ، هر کله چې په وجود کښې حکمت شته دے نو باید په وجود کار وشي چې رنګ په رنګ ترې څرګند شي. داسې شعرونه شاعران په استعاراتي ډول کاروي چې د دلیل کار ترې اخلي. دلته د وجود اهمیت ته واصل په ډېره اسانه زاویه سره کتلي دي او ښخي د سارتر وجودي فلسفې سره خپلې ځنډې وهي چې مونږ یې وړاندې د دغې مقالې د تعارف په مهال ذکر کړے دے ـ

پایله (نتیجه):

د دغه لنډې غونډې مطالعې نه مونږ دا پایله ترلاسه کولے شو چې واصل په مجموعي ډول یا په شعوري ډول خو د نورو وحدت الوجودي متصوفي فلسفیانو په پلونو پل ایښے دے او د معنا/جوهر/خیال په تناظر کښې یې د صورتونو/وجودونو/مظهرونو ته کتلي دي او د صورت/وجود نفي یې ښه په ښکاره ډول کړې ده ، صورت یې د وینې او زوې یو بد بوداره شے ګڼلے دے ، کله یې له تیارو ډکه تکه توره کوټه ګڼلے دے او کله یې ورته وچ لرګي نامه ورکړې ده چې د هېڅ بر او ګل صلاحیت نه لري ـ ولې خال خال د دواړو (معنا او صورت) امتزاج ته هم پامته داره شوے دے او هلته یې بیا د دواړو اهمیت هم تسلیم کړے دے او د تکثیریت/ثنویت (Dualism) لور ته مایله شوے دے چې افلاطون ورته د هست او عدم (Existence and non-existence) او بیا ریني ډیکارټ ورته ذهن او ماده (Mind and Mattar) (18) په نوم معارفي کړي دي او دا یې ګڼلې ده چې د انسان او کائنات او ژوند تعبیر او تشریح د دې دواړو په خپلو کښې د امتزاج له پلوه هم ممکن ده ـ

## حوالې/نوټونه

1. James Alabi, *Thematic Distinction between Essence and Existence*, http://www.grin.com dated 20/02/2023
2. Lawhead, W F. 2002. *Voyage of Discovery: An Introduction to Philosophy*. Belmont: Wadsworth/Thomson Learning, p.173
3. *Thematic Distinction between Essence and Existence*, http://www.grin.com
4. نیئر ، ناصرعباس ، داکتر ساختیات اور ساختیاتی تنقید ، مشموله: ساختیات ..... ایک تعارف ، مرتب: داکتر ناصرعباس نیئر ، اسلام آباد ، پورب اکادمي ،ص: ۱۱۲
5. فاروقی ، شمس الرحمن ، تعبیر کی شرح ، کراچی ، اکادمی بازیافت، ۲۰۰۴ ، ص: ۱۵۳
6. پیټر بیري ، بنیادی تنقیدی تصورات ، مترجم: الیاس بابر اعوان ، لاهور ، عکس پبلیکیشنز ، ۲۰۱۸ ، ص: ۶۳
7. جلالپوری ، علی عباس ، عام فکری مغالطے ، لاهور ، تخلیقات ، اشاعت: ۲۰۱۳، ص: ۷۴
8. جاوید حسین ، قاضی ، وجودیت ، لاهور،مکتبه میری لائبریری ، ۱۹۷۳ ، ص ص: ۹۸-۱۰۲
9. خوږشکي ، پرویز مهجور ، ډاکټر ، پروفیسر ، د واصل روښاني دیوان ، کوټه ، پښتو اکېډمي بلوچستان، ۲۰۲۰ ، مخونه: ۴ ـ ۹
10. هم دغه کتاب ، مخ: ۲
11. قمرجمیل ، جدید ادب کی سرحدین (جلد اول) کراچی ، مکتبه دریافت ، فروري ۲۰۰۰، ص: ۱۸
12. تعبیر کی شرح ، ص: ۱۵۴
13. د واصل روښاني دیوان: ۱۷۷
14. نوټ نمبر ۱ : دغه شعر کښې د ترانښه په معنا زه پوهه نه شوم ، دې سره د معنا تعبیر بدلېدے هم شي او پراخه کېدے هم شي

15. نوټ نمبر ۲: که څه هم مبنی وزیر/بنوڅي/مروت او نور اړونده قبیلې د مېښې مذکر یعني سنډا ته هم وايي خو دلته د مهجور صېب یاده کړې معنا غوره ده

16. ساختیات اور ساختیاتی تنقید، مشموله: ساختیات ..... ایک تعارف، ص: ۱۱۴

17. کلیات میر (دیوان پنجم)، لاهور، سنگ میل پبلی کیشنز، ۱۹۹۹ء، ص: ۵۳۲

18. یاسر جواد، نظریات کی مختصر تاریخ، جهلم، بک کارنر، ۲۰۲۲، ص: ۸۳